


د مولانا سعيد افغاني : آزاده ، تولنيزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!



## محب الرحمن « خطيبي »

د نشر نېټه : ۲۵ می ۲۰۱۴ میلادی

# زه دعا درته کوومه ....

آباد به شـــــی وطنه زه دعا درته کوومه
اوس سوځی زه دی وینمه ژړادرته کوومه
دښمنه تا تبا کړو هم دی اور هر خوا بل کړی
دوزخ په اور کی وسوځی خیرا درته کوومه

ویر او مــــــاتم نه کړم وطنه نور به نه ژاړم
اوښکی پاکوومـــــه زه خنـــدا درته کوومـــه
غم به لتا ورک شی زه په دی باندی یقین لرم
زخمــــونه به علاج شی زه دوا درته کوومه

که لری که نیږدی یم زړه می تا پسی تپیږی تل
هر خوا دی دښمنان دی زه سودا درته کوومـه
عیب زه نه ګڼمه چی لتا غمونه ورک کړمه
که ته پی خوشالیږی زه ګدا درته کوومـــه

لاسونه می جیګ کړی استدعا ته صبح و شام
خدایه پاکـــــه واوره واویلا درته کوومـــــه
مین یم زه محب وطنه ستا همیش خادم یمـــه
قسم دی تر لــــــحده زه وفا درته کوومــــه

****

محب الرحمن « خطيبي »

۲۰۱۳

www.said-afghani.org - بارګشت به صفحه اصلی